آصف بهاند
۲۰۲۶/۰۸/۲۳

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۴۵مه برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۹۴مه برخه

«د لنډيو اصلي منابع خلک دي» په دې برخه کې په داسي سندرغاړي باندې خبرې کوم چې خوږ غږ لري، رباب غږوي او په سندرو کې ډېره سلنه لنډۍ زمزمه کوي. دا سندرغږی جابرشاه نومېږي او له خپل نامه سره ليکي چې ټيکټاکر جابرشاه.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جابرشاه په ټولنیزو رسنیو ډېرفعال دی او له نورو سره یې تویږر همدا دی چې ډېر ښه رباب غږوي او ورسره ډېر خوږغږ هم لري او د فعالیت ډېره سلنه یې پښتو لنډیو ته وقف کړې ده.

دا لاندې یې د فیسبوک‌پاڼې لینک دی:

https://www.facebook.com/profile.php?id=100057587133958&sk=reels_tab

د ۲۰۲۶ ام کال د جون میاشتې پر ۲۹مه نېټه ما ښاغلي جابرشاه ته د ډنمارک په وخت ماخوستن مهال (۲۱ بجې او اتلس دقیقې) د مسنجر له لارې یو وړاندیز ورولېږه، دا یې متن دی:

«سلامونه!

زما نوم آصف بهاند دی، پخوا په کابل پوهنتون کې استاد وم. غواړم له تاسو سره د پښتو ټپو په باب یو بحث ولرم او د لنډیو په باب او ستاسو د هنري فعالیت (رباب غږول او په ښکلي غږ کې د پښتو ټپو زمزمه کول) په باب څو پوښتنې مطرح کړم. هره لار چې تاسو ته اسانه وي، غواړم له هغې لارې له تاسو سره وغږېږم. هیله ده چې ماته یې لار راوښیئ.»

ښاغلي جابرشاه د یوه غریز پیام په ترڅ کې زما د غوښتنې په ځواب کې داسې راته وویل:

«وعلیکم سلام! مشره ښنګه یې، ښه یې، برابر یې، حالات دې ښه دي؟ الله دې خوشحاله که، الله دې کامیابه که جي.

انشاالله انشاالله کوم بې درته ښه!

نور تاسو ښه یئ؟»

بیا مې د ۲۰۲۶ ام کال د جولای پر لومړۍ نېټه څو پوښتنې د ده په مسنجر کې ورولېږلې، د هغو پوښتنو متن دا دی:

«بیا سلامونه!

هیله ده چې ښه اوسې. زما نوم آصف بهاند دی، پخوا په کابل پوهنتون کې استاد وم او اوس په ډنمارک کې ژوند کوم، لکه د پخوا په څېر په فرهنګي کارونو بوخت یم.

زما د کارونو یوه‌لویه برخه د پښتو لنډیو په باب څېړنه، د نویو لنډیو ټولول او راخوندي کول دي. تراوسه مې د لنډیو په باب د پاملرنې وړکار کړی دی. زه په ټولنیزه میډیا کې ستاسو ټولې سندرې ګورم، غږ مو حسابي ښکلی او رباب غږول مو بیساری او بې‌جوړې دي. ستاسو هغه ویډیوګانې ما ته ډېرې جالبې دي چې تاسو په ځانګړي انداز سره لنډۍ په کې زمزمه کوئ. کومې لنډۍ مو چې نوې راته ښکاره شي راخوندي کوم یې.

اوس غواړم چې ستاسو د هنر (رباب غږول او سندرې ویل) په باب یوه مقاله ولیکم. د فرهنګي همکارۍ له مخې دا څو پوښتنې راځواب کړئ:

ــ له څه وخته مو د لنډیو زمزمه کول پیل کړل؟

ــ تر اوسه به مو په اټکلي ډول یا دقیقاً څومره لنډۍ په خپل غږ کې زمزمه کړې وي؟

ــ ستاسو د سندرو ویلو ډېره برخه د لنډیو زمزمې ته ځانګړې شوې ده، چې دا ولې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ــ رباب غږول مو کله، چېرې او له چا څخه زدهکړې دي؟

ــ ایا په یوتیوب کې چینل لرئ؟ که یې لرئ، لینک یې راته راولیږئ.

ستاسو په باب زما ترکار لاندې مقالې د لارنګینې له پاره ستاسو یوه‌وړه بیوګرافي په کار ده، د فرهنګي همکارۍ له مخې خپله بیوګرافي ما ته راولېږئ.

له مرستې نه مو همدا اوس مننه!

آصف بهاند»

ځلوروځې یې ځواب رانه‌کړ، بیا ما داسې ورته ولیکل:

بیا سلامونه!

ته څه شوې؟

ولې ځواب نه کوې؟

زما د پوښتنو ځوابونه که نه لیکې، په غږیز ډول یې لنډ راته ځوابونه ووایه چې زه ستا د هنر په باب یوه مقاله لیکم.

تر دریوو ورځو وروسته یې د یوه غږیز پیام په ترڅ کې داسې وویل:

«وعلیکم سلام!

سرجې ښه یې،

حالات دې ښه دي،

برابر یې؟»

د مقالې د لاغني کېدو په پار د ښاغلي جابرشاه ځوابونه اړین وو، خو مرسته یې یا ونه‌کړه او یا یې مرسته ونه‌شوه کولای، په دلیل یې پوه نه‌شوم. زما له پاره د خوشحالۍ خبره دا ده چې د یوه ښه هنرمند په پېژندلو بریالی شوم او تر دې هم مهمه خبره دا ده چې د ښاغلي جابرشاه سندرې د لنډیو د ارشیف بنه لري چې دی یې ثبتوي او خپلو مینه‌والو ته یې وړاندې کوي او په دې ډول ګڼ‌شمیر لنډۍ خوندي کوي.

بیا مې نور تکلیف ورنه‌کړ، خو هغه څه مې چې په ټولنیزه میډیا کې د ده د دوو هنرونو (سندرې ویل او رباب غږول) په باب لیدلي دي، د هغه په باب به زه د خپلو سترګو لیدلی حال په لنډ ډول له تاسو درنو لوستونکو سره شریک کړم:

جابرشاه ښکلی غږ لري او ښه رباب غږوي، سندرې ویل او رباب غږول یې بیخي ځانګړي دي او داسې بې کبره او عجیب انسان دی چې د هېڅشي او هېڅ ځای خیال نه ساتي؛ هرچېرې چې پېښ شو کیني رباب غږوي او لنډۍ زمزمه کوي.

دا لاندې یې د ځینو سندرو نه راټولې شوې هغه لنډۍ دي چې ده زمزمه کړې دي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا لنډۍ مي له داسي يوې ويډيو نه راوليکلي چي ښاغلی جابرشاه مست رباب غږوي او دوه تنه نور سندرغاړي لنډۍ ورسره زمزمه کوي. ويډيو پنځه‌دقيقي او پنځه‌ويشت ثانيي ده، لومړی لنډۍ او بيا د ويډيو لينک راځي:

**د يار ديدن راباندې بندشو**
**لکه چي بند د هريپور په جيل کي يمه**

**شراب په شرعه ناروا دی**
**پر ما روا دي زې د يار له غمه څکمه**

**ما درته وې چي شراب مه‌څکه**
**شيخه زما پر يار دې واچول لاسونه**

**ليلا د بل کور ته واده شي**
**زما يادونه به يې خوب ته نه‌پرېږدينه**

**چېره مي مه، خوږ مي زياتېږي**
**جانان د زړه په سر په (؟) وهلی‌يمه**

**زما په زړه کي درته سوال و**
**ستا له ملالو سترګو ډېروشرمېدمه**
https://www.facebook.com/reel/883110244773306

**دا به ډولی نه وي يارانو**
**د ارمانونو جنازې به په‌کي وړينه**

**مينه دې ګياره‌هزار لين دی**
**چي درنږدې‌شمه، شارټونه راکوينه**

**ياره رامنده که اختر دی**
**دواړه‌لاسونه مي کولاو نيولي‌دينه**

**د چا دادا به ورته تينګ شي**
**پر ګلابي شونډو د ژبې سر وهينه**

دا پاسنی لنډۍ مي د ښاغلي جابرشاه له داسي يوې ويډيو نه راخپلي کړې دي چي دوګړه‌مار هم لنډۍ ورسره زمزمه کوي. ويډيو پنځه‌دقيقي او شپږ ثانيي اوږده ده، دا لاندې يې لينک دی:
https://www.facebook.com/reel/374850218511151O

**په تا اختر دی، ګوتي سرې که**
**پرما سيلی د بيابان راغلي‌دينه**

**زما په دې کلي کي څوک دي**
**ستا له خاطره په کي عمرتېرومه**

**په دولتونو پسي‌ورکه**
**شپېږم اختر دی بې له تا يې تېرومه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

**ستا به لاکال لا به دي دوه وي**
**زما یولس‌کاله وشول، غرک پې یمه**

**مخي ته مه‌راځه شرمېږم**
**داسي پوهېږم چي ما تا له درکوینه**

**ستا په شان ډېر پر ما مئن دي**
**زړګی مي یو دی، زه بې چا له ورکومه**

**د زړه پر سر مي اور بلیږي**
**که څوک تودېږي، زما خواله دي راځینه**

**یاره، یاري دي کړی نه‌ده**
**د لرې ـ لرې نه دي رېږي اندامونه**

پاسنۍ لنډۍ مې د جابرشاه له داسې یوې ویډیو نه راولیکلې چې دی د یودوګړه‌مار په ملتیا د ځوانانو په یومحفل کې د خپل رباب سره مل پرلپسې زمزمه کوي. ویډیو درېدقیقې او دوه‌پنځوس ثانیې ده، دا یې لیک دی:

https://www.facebook.com/reel/1602427447492778

جابرشاه له لنډیو وراخوا کله کله ځینې شعرونه هم د موزیک په ملتیا زمزمه کړي دي، په دې لاندې لینک کې یې یوه بېلګه لېدلای شئ:

https://www.facebook.com/reel/2526301737799856

دغه‌راز جابرشاه کله کله یونیم خوږ غزل هم زمزمه کوي، ما ته یې په ټولنیزه مېډیا کې داسې یوه ویډیو په مخه راغله چې یو غزل یې په خپل ښکلي غږ سره ښه خوند ویلی و، دا یې د بیل څوبیتونه او لینک دی:

**خیال رنګین نوي غزل کې رنګیني نه‌راځي**
**په اوتوبوتو باندې مینه د زړګي نه‌راځي**

**چي ته ښایسته نه وای، نو تا باندې بیا چا څه کول**
**میږي خوږو له ځي، ترخو لره میږي نه راځي**

**جانانه تا چي به ویل، ما نه زړګی صبر کړه**
**سوچ به پرې وکړم، خو واره پرې بیخي نه‌راځي**

دا لاندې د بشپړې سندرې لینکونه دی:

https://www.facebook.com/watch/?v=1697334101592982

https://www.facebook.com/watch/?v=1998224657648795

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ